AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین


مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۶/۰۴/۱۳

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اوومه برخه)



(پوځي دیکتاتور، جنرال ضیاء)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۴)

### پنجابی، جنرال محمد ضیاءالحق[1] او لومړی وزیر ذوالفقارعلي بوټو

جنرال ضیاء د انګرېزي استعمار په پوځ کې د زغروال پوځ افسر ؤ، نوموړی د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال، د ۱۹۴۵ز. کال د مې په میاشت کې په (برما) او (مالایا) کې د جاپانیانو پر وړاندې، په جګړو کې برخه اخیستې وه. جنرال ضیاء د هند له وېش وروسته د پاکستان له پوځ سره یو ځای شو، هغه د ۱۹۶۵ز. کال د هند او پاکستان د جګړې پر مهال، د (۱۰۱) پلي لوا مرستیال ؤ.[2]

جنرال ضیاء هغه څوک دی چې **د افغانستان په وړانولو کې یې ستر رول لوبولی دی،** له دې وړاندې یې د ۱۹۷۰ز. کال د سپټمبر په میاشت کې د اردن د پاچا حسین د پوځ او د فلسطین د آزادۍ سازمان (PLO) ترمنځ په وسلهوالو نښتو کې پیاوړې ونډه لرله، دغه جګړه چې د سپټمبر له ۱۶ تر ۲۷مې نېټې پورې روانه وه، د زرګونو فلسطینیانو د وژل کېدو او بې ځایه کېدو لامل شوه چې په تاریخ کې د فلسطینیانو دغو وژنو ته **(تور سپټمبر)** وایي. د تور سپټمبر د پېښې

---

[1]: پوځي دیکتاتور جنرال ضیاء یو پنجابيتوکمه جنرال ؤ، هغه په ۱۹۲۴ز. کال کې د هندي پنجاب په جلندر کې زېږېدلی او پلار یې محمد اکرم د انګریزانو په وسلهوال پوځ کې ښوونکی ؤ. ضیاء له لومړنیو زدهکړو وروسته د هند په (شمله) کې، د سنت سټیفن کالج (چې د انګرېزانو پر کلیسا پورې تړلی ؤ) زده کړې وکړې ... .

[2]:https://books.google.com/books?id=3mE04D9PMpAC&q=zia+ul+haq+commander+of+indo+pakistani+war&pg=PA1756



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پر مهال، جنرال ضیاء په اردن کې د پاکستاني پوځ د پوځي سلاکارانو مشري کوله چې د فلسطیني سرتېرو پر وړاندې یې اردني پوځ په بنه توګه وکاراوه چې د دغو خدمتونو پر وياړ، جنرال ضیاء ته د اردن پاچا لهخوا، د اردن تر ټولو لوړ پوځي نښان (مډال) ورکړل شو. **د تور سپتمبر له عملیاتو وروسته، جنرال ضیاء، د اسراییلي صهیونستي رژیم لپاره ډېر په زړه پورې کس وګرځید.**[3]


(لومړی وزیر ذوالفقارعلي بوټو)[4]

په تیرو پاڼو کې مو ولوستل چې جنرال یحیی خان، د ۱۹۷۰ز. کال، د ډسمبر په ۲۰مه نېټه، وروسته له هغې چې ختیځ پاکستان یې له لاسه ورکړ، د پاکستان پیپلز ګوند (پيپيپي) مشر **ذوالفقارعلي بوټو** ته (چې د ۱۹۷۰ز. کال د ولسمشری په ټاکنو کې یې، وروسته له شیخ مجیب الرحمن څخه دویم ځای درلود) د پاکستان واک وسپاره. «بوټو په ۱۹۷۳ز. کال کې د پاکستان په اساسي قانون کې بدلون راوست، هغه د ولسمشر (جمهور رییس) واک لومړي وزیر ته ولېرداوه چې د پاکستان د ۱۹۷۳ز. کال د اساسي قانون پر بنسټ د پاکستان نظام جمهوري پارلماني بدل شو. واک له ولسمشر واخيستل شو، پارلمان او لومړي وزير ته وسپارل شو چې لومړی وزیر د پارلمان لهخوا ټاکل کيږي. دغه اساسي قانون، پاکستان **(اسلامي جمهوريت)** اعلان کړ او د پارلماني نظام بنسټ یې کېښود. د اګست په ۱۰مه، بوټو د ولسمشری څوکی فضل الهي چودري ته وسپارله او خپله د لومړي وزير په توګه وټاکل شو.[5]

د بوټو د واکمنې په لومړيو کې جنرال ضياء د پاکستان په پوځ کې لوړپوړی جنرال ؤ، دا چې «د اردن پاچا حسېن په خپل هېواد، اردن کې د جنرال ضياء له خدمتونو [جنايتونو چې د فلسطينيانو پر وړاندې یې کړي وو] ډېر خوښ ؤ نو د پاکستان ولسمشر ذوالفقارعلي بوټو يې وهڅاوه چې جنرال ضياء د پاکستان د پوځ، د ستر درستيز په توګه وټاکي.»[6]

---

3: د اردن پاچا حسېن چې یو بېزړه کس ؤ، له اسراییلو سره د روغېجوړې په هڅه کې ؤ نو د اسراییلو او خپل هېواد د امنیت لپاره یې د فلسیطینیانو د (پي، ال، او) ډله له اردن څخه وایستله. (پي، ال، او) له اردن څخه لبنان ته ولاړل. (د ډېرو مالوماتو لپاره په افغان جرمن آنلاین پورتال کې (د یهودانو عادلانه جګړې) ۶۸برخه ولولئ.

4: ذوالفقارعلي بوټو چې په قوم یو راجپوت مسلمان او د سند ایالت اوسیدونکی ؤ، د ده د نسب په اړه (اوون بنت-جونز) لیکي چې د دې کورنۍ نسب د نهمې میلادي پېړۍ د (بهاټي) قبیلې، یو راجپوت شهزاده ته رسېږي چې د (ننې راجستان) د تانوت پر ښار واکمن ؤ. د بوټو نیکونو د راجستان په بېلابېلو تاریخي روایتونو کې مهمه ونډه درلوده، دغه کورنۍ غالباً د اوولسمې پېړۍ په شاوخوا کې، سند ته له کډې کېدو وړندې، د اسلام دین ته اوښتې وه. بوټو، د شاه نواز بوټو او خورشید بېګم زوی ؤ. پلار یې د جوناګړ د شاهزادهمیشتي ایالت دیوان (مالیهټولوونکی او...) ؤ او د برتانوي راج له چارواکو سره یې اغېزناک اړیکې لرل، **مور یې، خورشید بېګم چې اصلي نوم یې (لاکي بای) ؤ، د یوې هندو کورنۍ مسلکي، نڅاګرې لور وه خو د شاه نواز سره د واده پر مهال یې اسلام ومانه، ویل کیږي چې شاه نواز بوټو هغې ته د نڅا پر مهال پام شو، وروسته یې د واده غوښتنه وکړه او په پای کې یې ورسره واده وکړ.**
http://archive.org/details/zulfibhuttoofpak00wolp
ذوالفقار علي بوټو، یو پاکستانی ملت پال او سوسیالیست مشر ؤ، هغه په ۱۹۶۶ز. کال، د اکتوبر په میاشت کې د خپل نوي ګوند نظریات په ځرګنده توګه داسې اعلان کړل:**«اسلام زموږ ایمان دی، دیموکراسي زموږ سیاست دی، سوسیالیزم زموږ اقتصاد دی. ټول واک د خلکو لپاره دی.»**http://countrystudies.us/pakistan/19.htm

5 :http://countrystudies.us/pakistan/20.htm

6 :https://books.google.com/books?id=pIQjDgAAQBAJ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغه وو چې د ۱۹۷۶ز. کال د مارچ په لومړۍ نېټه، لومړي وزیر ذوالفقار علي بوټو، جنرال ضیاء، د پوځ د ستر درستیز په توګه وټاکه.[7]
ضیاء چې یو هوښیار او مکار جنرال ؤ، تل یې هڅه کړې چې واک ته د رسېدو لپاره له هرې لارې چې کېږي ځان ورسوي، شوني ده چې جنرال ضیاء د اردن له پاچا غوښتنه کړې وي چې بوټو ته د ده سپارښتنه وکړي ترڅو د پوځ د ستر درستیز په توګه وګومارل شي.

بلې خوا پاکستاني پوهان وايي چې بوټو د قومي او طبقاتي دلایلو پر بنسټ، جنرال ضیاء د ډېرو لوړپوړو افسرانو په منځ کې له دې کبله غوره کړ چې بوټو فکر کاوه، ضیاء چې یو پنجابی دی، د ډېریو پښتنو او راجپوت‌توکمو[؟] پوځي افسرانو سره د ده د نسکورولو په موخه یو ځای نه شي.[8]

بوټو چې د پاکستان له تېرو خپل‌منځي مخالفتونو، ګډوډیو او پوځي کودتاګانو پند او تجربه نه وه اخیستې، داسې ناوړه کړنې یې تر سره کړې چې پر وړاندې یې د پاکستان ټول ګوندونه راوپارېدل. بوټو هغه مهال د خپلو مخالفانو په نیولو او ځورولو پیل وکړ چې کله **په پېښور کې، په یوه چاودنه کې د بوټو یو نږدې کس (حیات شېرپاؤ) ووژل شو.**

بوټو د ملي عوامي ګوند (NAP) او د هغه پر مشرتابه باندې بریدونه پیل کړل او د نوموړي ګوند مشر **خان عبدالولي خان** یې بندي کړ، حالات هغه مهال لا پسې خراب شول چې بوټو د بلوچستان ایالتي حکومت (چې د NAP په واک کې ؤ) د بلوڅ بېلتون‌پالو په مخنیوي کې د پاتې کېدو په غبرګون کې ګوښه کړای شو چې بیا یې پر NAP بندیزونه ولګول او د دې ګوند ډېر مشران یې ونیول.

د ختیځ پاکستان له بېلتون وروسته، د بلوڅ ملتپالو له خوا د بلوچستان د خپلواکۍ غوښتنې زیاتې شوې. د ذوالفقارعلي بوټو مرکزي حکومت، د سیاسي بې‌ثباتۍ په پلمه، **په شېږو میاشتو کې دوه ایالتي حکومتونه ړنګ کړل، دوه اعلی وزیران، دوه والیان او ۴۴ تنه، د ملي شورا او پارلمان غړي یې ونیول.**[9]

د بوټو د کړنو له امله د ده په خپل ګوند (PPP) کې هم ډېر مخالفتونه رامنځته شول، په تېره بیا کله چې **د (احمد رضا قصوري) پلار (نواب محمد احمد خان قصوري) ووژل شو چې د بوټو له مهمو مخالفینو څخه ؤ،** تولیزې ناآرامۍ راوپارولې او بوټو د هغه په وژلو کې په لاس لرلو تورن شو. «په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کې سیاسي ګډوډۍ لا پسې پراخې شوې، مدني آزادۍ وځنډول شوې، **شاوخوا ۱۰۰,۰۰۰ پوځیان هلته ځای‌پرځای شول چې د بشري حقونو د سرغړونو او د ګڼ شمېر ملکي وګړو د وژنې تورونه پرې ولګېدل.»**[10]

د بوټو د دا ډول سختو کړنو پایله دا شوه چې «د ۱۹۷۷ز. کال د جنورۍ په ۸مه نېټه، د پاکستان ډېرو مخالفو سیاسي ګوندونو د پاکستان د ملي اتحاد (PNA) په نوم یوه ایتلاف جوړ کړ، تر څو بوټو له واکه ګوښه کړي.»[11] هغه وو چې بوټو تر فشار لاندې راغی او نوې ټاکنې یې اعلان کړې، ټاکنې ترسره شوې خو PNA ماتې وخوړه، PNA پایلې ونه منلې، ټینګار یې وکړ چې په ټاکنو کې درغلۍ شوې دي. د ۱۹۷۷ز. کال د مارچ په ۱۱مه نېټه نوموړي اتحاد عمومي کاربندیز اعلان کړ چې وروسته خونړي لاریونونه پیل شول، **د لاریونو پر مهال شاوخوا ۲۰۰ کسان لاریونوال له امنیتي ځواکونو سره په نښتو کې ووژل شول.** PNA د بوټو حکومت نامشروع وباله او د نویو ټاکنو غوښتنه یې وکړه.[12]

---

7: *جفرلو، کریستف. پاکستان: ناسیونالیسم بدون ملت. ص. ۶۲.*
8: https://web.archive.org/web/20231207180927/https://iconicfolks.com/index.php/2023/12/06/discovering-the-life-raja-zia-ul-haq-biography/
9: http://www.ppp.org.pk/history.html
10 : http://www.thedailystar.net/forum/2006/december/bhuttonmujib.htm
11 : http://www.ppp.org.pk/life_legacy.html
12 : https://www.theatlantic.com/magazine/archive/2005/11/the-wrath-of-khan/4333/3/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دا مهال چي بوټو تر سختو فشارونو لاندې ؤ او د كودتا خبر هم وركړاى شوى ؤ، له مخالفينو سره يې د جوړجاړي ليدنې كتنې رواني وې، هغه كوښښ كاوه ډېر ژر له خپلو مخالفينو سره روغې ته ورسيږي. په پاى كې بوټو له مخالفينو سره، دې هوكړې ته ورسيد چې د هماغه كال ۱۹۷۷ز. د اكتوبر په مياشت كې به د يو بېپرې لنډمهالي حكومت تر څار لاندې نوې ټاكنې ترسره شي.

**جنرال ضياء داسې شر غوښت چې د ده په كې خبر وي. هغه په دې هيله ؤ چې د بوټو او مخالفينو تر منځ چې هرڅومره حالات ترينګلي شي نو د پوځي كودتا لپاره به ښه لاره هواريږي،** خو كله چې د بوټو او مخالفينو تر منځ د روغې هوكړه وشوه نو جنرال ضياء ناهيلى شو، سربېر پر دې چې د سياسي مخالفينو ترمنځ روغه شوې وه، له دغې روغې، دوه ورځې وروسته **«د ۱۹۷۷ز. كال د جولاى په ۵مه نېټه جنرال ضياء خپل پلان شوې پوځي كودتا عملي كړه، بوټو يې له واكه لرې او هغه يې بندي كړ.** ضياء ژمنه وكړه چې په ۹۰ ورځو كې به نوې ټاكنې ترسره كړي.»

بوټو د جولاى په ۲۹مه نېټه له بنده خوشې كړاى شو، هغه په ټول هېواد كې سفرونه پيل كړل او (د پاكستان د خلكو ګوند) او خپلو پلويانو تر منځ يې اغېزناكې وېناوې وكړې. د دغو غونډو د ځنډونو لپاره بوټو ته په اوركاډي كې د سفركولو اجازه ورنه كړاى شوه... پوځي حكومت هڅه كوله [په ملتان كې] د غونډې مخه ونيسي خو د ډېرو خلكو د ګډون له كبله ګډوډي رامنځته شوه چې دا د بوټو د بيا نيولو لپاره پلمه وګرځېده، **بوټو د همدې كال د سپټمبر په ۳يمه نېټه د نواب محمد احمد خان قصوري د وژلو په تور ونيول شو** (چې ګواكې د ۱۹۷۴ز. كال په مارچ مياشت كې د ده په امر نوموړى نواب وژل شوى دى.) دا ځل د هغه دوسيه محكمې ته ولاړه او د سپټمبر په ۱۳مه نېټه په ضمانت خوشې كړى شو.[13]

بوټو د بيا نيول كېدو له وېرې خپله مېرمن، **نصرت بوټو**، د پاكستان د خلكو د ګوند د مشرې په توګه وټاكله.
**بوټو درې ورځې وروسته، د سپټمبر په ۱۷مه نېټه د هماغه نواب قصوري د وژلو په تور بيا ونيول شو او د پاكستان د خلكو ګوند ډېر مشران (چې مبشرحسن هم په كې ؤ) ونيول شول او د ټاكنو له سيالۍ هم بېبرخې (ناأهله) وبلل شول.**[14]
دا د بوټو درېيم ځل نيول وو چې بيا هېڅكله خوشې نه شو.

جنرال ضياء چې غوښتل يې ځان د پاكستان ولسمشرۍ ته ورسوي نو د ټاكنو د ځنډولو په موخه يې بېلابېلې پلمې او حيلې په لاره واچولې چې يوه پلمه يې د نوماندانو د پخوانيو جرمونو څېړل وو، «هغه د ۱۹۷۷ز. كال په اكتوبر كې اعلان وكړ چې ټاكنې به وځنډول شي او د سياستوالو د حساب وركولو بهير به پيل كړي.» جنرال ضياء په تلويزيون كې له خپلې دې پرېكړې په كلكه دفاع وكړه، هغه غوښتنه وكړه چې **«هغه سياسي مشران چې په تېر كې يې سرغړونې كړې دي، بايد په غور سره يې جرمونه وڅېړل شي.»** په داسې حال كې چې جنرال ضياء په خپله لوى مجرم ؤ، ملكي حكومت يې د كودتا له لارې نسكور كړى ؤ، د حكومت مشر بوټو او نور وګړي يې بنديان كړي وو، **دا مهال د پاكستان واک داسې چا ته په لاس ورغلى ؤ چې د هغه په قانون كې مجرمان بېګناه او بېګناهان مجرمان وو.**
د ټاكنو د ځنډولو او واک ته د جنرال ضياء د رسيدلو لپاره د پاكستان ټول نوماندان، په ځانګړې توګه د قصوري د قتل په تور د ذوالفقارعلي بوټو تورنول يو ښه تكتيک ؤ، «جنرال ضياء د **(رد صلاحيت)** يوه محكمه جوړه كړه چې د پارلمان ډېر غړي د بد چلند په تور ونيول شول او د راتلونكو اوو كلونو لپاره له سياست څخه محروم كړاى شول. يو رسمي سند خپور شو چې په هغه كې د بوټو لېرې كړاى شوى حكومت يې په څو ډوله جرمونو تورن كړ.[15]

---

13: *http://www.dawn.com/news/1108023*
14: https://web.archive.org/web/20130330054534/http:/www.pakistanherald.com/Articles/Living-with-Bhuttoand8217s-ghost-1529
15: https://web.archive.org/web/20120209045409/http:/www.elections.com.pk/candidatedetails.php?id=6887


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په خير و لولئ

د ضیاء پوځي حکومت په بري سره سیکولر سیاسي ځواکونه له اسلامپالو او محافظه‌کارانو څخه جلا کړل او وروسته یې د سیکولر جبهې غړي یو په بل پسې له سیاسي ډګره لېرې کړل.[16]

د ګوښه شوي لومړي وزیر مېرمن، نصرت بوټو د ضیاء د حکومت پر ضد دعوه وکړه او د هغه د پوځي کودتا مشروعیت یې ننګاوه. د پاکستان سترې محکمې د نصرت بوټو د دعوې په هکله پرېکړه وکړه چې وروسته د

**(د ضرورت نظریې)** په نوم مشهوره شوه چې د هغه مهال د خطرناک او ناامنه سیاسي وضعیت له امله، د بوټو د حکومت نسکورول د ضیاءالحق له خوا د قانوني اړتیا له مخې توجیه کېدای شي.

د سترې محکمې مشر چې د جنرال ضیاء نږدې کس ؤ، ټولې پرېکړې یې د ضیاء د مخالفینو په زیان کولې، د اړتیا له امله د ضیاء کودتا ځکه نه توجیه کیږي چې په پاکستان د بوټو او مخالفو ګوندنو تر منځ پر بیا ټاکنو روغه شوې وه.

نېټه:۱۴۰۵/۱/۲۲ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اڅر نوري لیکنې په دې لینک کې ولولې.

[16] :https://books.google.com/books?id=PZ62tP_5a2AC&q=asghar%20


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ